ترجمه حدیث شریف:
**رسول الله صلی علیه وسلم می فرماید:** ده چیز از فطرت است: ۱-کوتاکرن بروت ها، ۲-گذاشتن ریش، ۳-استعمال مسواک، ۴-به بینی آب گرفتن وصاف کردن، ۵-گرفتن ناخن، ٦-شستن جاهای که درآنجا چرک جمع می شوند؛ مثلا: وسط انگشتان، کشیدن موی زیر بغل، تراشیدن موی زیر ناف ۹-استنجاکردن ۱۰-مضمضه یعنی در دهان آب گرفتن وصاف کردن. {مسلم شریف ج۱ ص ۲۲۳ حدیث ۲٦۱ باب خصال الفطرة}
(د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

پنجشنبه | د ذولقعده الحرم ۱ - ۱٤٤٥ل س/ د غويي ۲۰ - ۱٤۰۳ل ل/ د مې ۹ - ۲۰۲٤ز/دریم کال / ۹۸ گڼه/ ٤ مخیزه



## سر مقاله

### نقش تکنالوژی در تجارت بین المللی

تکنالوژی در تجارت بین المللی نقش نهایت موثر داشته و در حقیقت تأثیر عمده‌ای بر روند تجارت جهانی و روابط بین‌المللی دارد. تکنالوژی ارتباطات، از جمله انترنت و تلفن همراه، به شرکت‌ها و کسب و کارها امکان می‌دهد تا در سراسر جهان با هم ارتباط برقرار کنند. ارتباطات الکترونیکی و ابزارهای مانند ایمیل، ویدیو کنفرانس، و پلتفرم‌های مشارکتی امکان انجام مذاکرات تجاری، انتقال اطلاعات و صورت‌های مختلف همکاری تجاری را فراهم می‌کنند. در پهلوی آن تکنالوژی انترنت و پلتفرم‌های تجارت الکترونیکی مانند وب‌سایت‌های خرید آنلاین و بازارهای الکترونیکی، به شرکت‌ها و تجارت های بین‌المللی امکان می‌دهد تا محصولات و خدمات خود را به صورت آنلاین به بازارهای جهانی عرضه کنند و با مشتریان بین‌المللی در ارتباط باشند. این فرآیند تجارت الکترونیکی باعث افزایش آسانی و سرعت تجارت بین‌المللی می‌شود. قابل ذکر است که تکنالوژی از جمله سیستم های مدیریت زنجیره تأمین (Supply Chain Management) و نرم‌افزار های مدیریتی به شرکت ها کمك می‌کند تا عملکرد لوجستیکی خود را بهبود دهند. با استفاده از تکنولوژی، شرکت‌ها می‌توانند عملکرد حمل و نقل، باربری، ردیابی محموله‌ها و مدیریت سفارشات را بهبود بخشند و به طور کلی روند زنجیره تأمین را مطمین تر کنند. شرکت‌ها می‌توانند با استفاده از تکنالوژی، فرصت‌های جدید را بررسی کنند، محصولات و خدمات نوآورانه ایجاد کنند و فناوری جدید را با استفاده از همکاری‌های بین‌المللی بهبود بخشند. تکنالوژی وابسته به تحقیق و توسعه باعث افزایش قدرت رقابتی شرکت‌ها در بازارهای جهانی می‌شود. تکنالوژی امکان استفاده از داده‌ها و تحلیل آنها را در تجارت بین‌المللی بوجود آورده است. با جمع‌آوری و تحلیل داده‌های مربوط به بازارها، مشتریان، رقبا و عملکرد داخلی، شرکت‌ها می‌توانند بهترین تصمیمات را در خصوص استراتژی‌های بازاریابی، توزیع و قیمت‌گذاری بگیرند. تکنالوژی باعث تغییرات ساختاری در تجارت بین‌المللی می‌شود و نوآوری‌های را در روش‌ها، فرآیندها و مدل‌های کسب‌وکار به وجود می‌آورد. از مثال‌های این تغییرات میتوان به استفاده از روباتیك، هوش مصنوعی، انترنت و واقعیت مجازی/افزوده اشاره کرد که تماماً در راستای بهبود عملکرد و افزایش کارایی در تجارت بین‌المللی به کار می‌روند. استفاده تکنالوژی در راستای تجارت بین المللی و ایجاد شفافیت در کشورها نهایت موثر واقع میشود که این شفافیت بیشتر در معاملات تجارتی و جمع آوری عواید بیشتر موثر واقع میشود. در حال حاضر امارت اسلامی افغانستان برای استقرار شفافیت بیشتر در داد و ستد تجارتی تلاش ورزیده تا استفاده از تکنالوژی را بیشتر نماید تا باشد از فساد در تمامی بخشهای عایداتی از بین رفته و مهار گردد. در حال حاضر سیستم بروکراسی در کشور به عنوان چالش بزرگ در راستایی خودکفایی در کشور پنداشته میشود، ولی خوبشبختانه در این اواخر وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در تلاش است تا در راستایی تأمین شفافیت و زمینه سازی برای رشد تکنالوژی در تمامی بخش های وزارت مالیه اقدام های جدیدی انجام دهد. به طور کلی، تکنالوژی در تجارت بین‌المللی میتواند روند تجارت را تسریع کرده، هزینه‌ها و زمان را کاهش دهد، دسترسی به بازارهای جهانی را بهبود بخشد و فرصت‌های نوآورانه را ایجاد کند. همچنین، تکنالوژی می‌تواند به توسعه پایدار و رشد اقتصادی کشورها کمك کند و روابط تجاری بین کشورها را تقویت نماید.

**با احترام**

**اداره**

# د مالیې وزارت گمرکي مسؤلینو په ۱۴۰۲ مالي کال کي شاوخوا (۱۷۹) زره ټنه قاچاقي توکي کشف او نیولي دي

د مالیې وزارت له لوري د هیواد په گمرکونو کې د مهمو اسانتیاوو رامنځته کولو سربېره، له فساد سره جدي مبارزه سوې او د ممنوعه او قاچاقي توکو په کلکه مخنیوی سوی دئ. پر همدې بنسټ، د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د گرځنده څارني ځیرکو کارکوونکو په تېر (۱۴۰۲هـ.ل) مالي کال کي د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې د گڼ شمېر بې کیفیته او ممنوعه قاچاقي توکو مخنیوی کړی دئ. د مالیې وزارت د گمرکونو زړورو مسؤلینو، د کندهار، نیمروز، فراه، خوست، پکتیا، هرات، هلمند او ننگرهار ولایتونو په بېلابېلو سیمو کي د (۱۷۸۱۹۴) ټنه بې کیفیته او ممنوعه توکو مخه نیولې، چي په هغه کي طبي، زراعتي او یوناني درمل، خوراکي توکي، نشه یي مواد او داسي نور شامل دي. دغه توکي، چي په قاچاقي ډول په غیر رسمي لارو له گاونډیو هیوادونو، په ځانگړي توگه له پاکستان څخه افغانستان ته را وړل کېدل، نیولي دي او عاملین ئې اړوندو ارگانونه ته معرفي سوي دي. اوس مهال د هیواد په ټولو لویو لارو کي د گمرکونو لوی ریاست د گرځنده څارني ټیمونه په دوامداره توگه څارنه او گزمې کوي او هیڅ چا ته اجازه نه ورکوي، چي قاچاقي او ممنوعه توکي په ځانگړي ډول هغه توکي، چي د کورني صنعت د ودي او پرمختگ د مخنیوي سبب گرځي، ولېږدوي یا را ولېږدوي.




## د ملت سوداگریز مارکېټ د جوړولو چاري پیل سوې



د کابل ښار، میرویس میدان (کوټه سنگي) سیمه کي د یوې ستري او معیاري سوداگریزي ودانۍ (ملت مارکېټ) د جوړولو چاري، د مالیې وزارت او خصوصي قراردادي شرکت د یو شمېر مسؤلینو له لوري د پټۍ په پرې کولو سره، رسماً پیل سوې. په یاده سیمه کي د مالیې وزارت اړوند پر (دوه جریبه) ځمکه باندي، د میهن ملت رغنیز خصوصي شرکت له لوري د (۴،۵) میلیونه ډالرو پانگوني سره، په معیاري بڼه (۱۲) پوړېزه ودانۍ، چي (۳۰۰) سوداگریز دوکانونه به ولري رغول کېږي، چي ورسره به سلگونو کسانو ته، په مستقیم ډول د کار کولو زمینه برابره سي. دغه سوداگریز مرکز به د درو کلونو په موده کي ورغول سي، چي له درکه به ئې په کال کي (۳۸) میلیونه افغانۍ عواید د دولت خزانې ته ور اضافه کېږي.

## په ۱۴۰۲ مالي کال کي د ملگرو ملتونو او نورو بهرنیو مرستندویه ادارو سره اړیکي پراخي سوي دي



د مالیې وزارت د پالیسۍ معینیت له لوري په (۱۴۰۲هـ.ل) کي له بهرنیو مرستندویه ادارو او ملگرو ملتونو سازمان سره د دوامداره مثبتو اړیکو په وسیله د یو شمېر مهمو پروژو د تمویل او پورونو ترلاسه کولو په برخه کي خبري او پرمختگونه سوي دي. له دغو بنسټونو سره د پالیسۍ معینیت د فعال تعامل په پایله کي پر نړیوال بانک باندي د (کاسا زر) پروژې د عملي کوونکو شرکتونو د (۲۷،۳) میلیونه ډالرو پورونو د ترلاسه کولو په برخه کي د یادو لوریو ژمنتیا او اړیني همغږۍ رامنځته کېدل، له اسیایي بانک سره د کورنیو او بهرنیو قراردادي شرکتونو د مهمو پروژو د تمویل لپاره د (۲٦،۷) میلیونه ډالرو مرستي ورکول، له اسلامي پراختیایي بانک سره د (۷) مهمو بشري پروژو د پیل لپاره د (۲۵) میلیونه ډالرو ورکړه او د یادو پروژو پیلېدل، په تور غونډۍ بندر کي د بند پاتي (۸۷٦) کانتینره خوارکي موادو د خلاصون په موخه د خوړو نړیوال سازمان له لوري د اړین لگښت، (۲۱۹۴٦۹) ډالرو په ورکړي سره یادي ستونزي حل سوې او له یوناما سره د مالیې وزارت د بنچمارکونو د شریکولو او نظر د تبادلې په برخو کي د دوامداره مثبت او فعال تعامل له کبله، له نړیوالي ټولني سره د مثبتو اړیکو په ټینگښت کي پرمختک رامنځته سوی دئ او د مهمو پروژو پیل ته ښه زمینه برابره سوې ده. د یادوني وړ ده، چي د مالیې وزارت د پالیسۍ معینیت، د هیواد اقتصادي فعالیتونه په یو منسجم چوکاټ کي هر اړخیز اقتصادي تحلیلوي، بهرنۍ مرستي جلبوي او له نړۍ سره د هیواد د اقتصادي او سوداگریزو اړیکو د لا پیاوړتیا په برخو کي فعالیتونه ترسره کوي.




د کورنۍ پلټني لوی رئیس او ورسره مل پلاوي بغلان، کندوز، تخار او بدخشان ولایتونو ته سفر وکړ

م ۲




د ۱۲ مستوفیتونو مالي او حسابي کارکوونکو ته د روزنیز پروگرام لومړۍ دوره پیل سوه

م ۲




د روان کال عوایدي هدف ته د رسېدو په موخه د عوایدو لوی ریاست رهبري پلاوي ناسته وکړه

م ۲



د روان مالي کال په وري میاشت کي د هیواد په گمرکونو کي د تر سره سوو فعالیتونو تخنیکي ارزونه وسوه

م ۲




پلان گذاری اساس یک سازمان را تشکیل میدهد

م ۳




اسلامي امارت د روسي نفتو په تړاو د سیمي د انرژۍ د سوداگریز مرکز له پاره پلان جوړوي

م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه



# د کورنۍ پلټنې لوی رئیس او ورسره مل پلاوي بغلان، کندوز، تخار او بدخشان ولایتونو ته سفر وکړ

د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی رئیس انجنیر عبداللطیف خالد په مشرۍ د دې ریاست یوه پلاوي د چارو د کتنې او ارزونې په موخه د بغلان، کندوز، تخار او بدخشان ولایتونو له مستوفیتونو او همدارنگه د کندوز او بدخشان ولایتونو له گمرکونو څخه لیدنه وکړه. د یادو ادارو مسؤلینو د جلا غونډو په ترڅ کې د کورنۍ پلټنې لوی ریاست پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او د اصلاحاتو د رامنځته کولو په برخه کې ئې د دې ریاست د هڅو ستاینه وکړه. وروسته د کورنۍ پلټنې لوی رئیس انجنیر عبداللطیف خالد د غونډې گډونوالو ته د اسلامي نظام د اهمیت، ښېگڼو او همداشان د پلټنې د ارزښت او د پلاوي د سفر د اهدافو په اړه، چې د پخوانیو پلټنو په ترڅ کې د ورکړل سوو اصلاحي سپارښتنو د تطبیق تعقیب، د ادارو عمومي ارزونه او د یادو ادارو د مسؤلینو او کارکوونکو د ستونزو او غوښتنو اوریدل ول، خبري وکړې. ښاغلي خالد د اړوندو ادارو له مسؤلینو او کارکوونکو څخه مننه وکړه، چې د وروستیو پلټنو ډېری سپارښتني ئې تطبیق کړي او په ورته مهال کې ئې له دوی څخه وغوښتل، چې د تل په څېر د پلټنې سپارښتني په ټاکلي وخت تطبیق او له مرکز سره خپل راپور شریک کړي. د دې ترڅنگ انجنیر عبداللطیف خالد د دغو ادارو له کارکوونکو او هري شعبې څخه په جلا توگه لیدنه وکړه، د هغوی کاري راپورونه، ستونزي او غوښتني ئې واورېدې او له اړونده مسئولینو سره ئې د حل په موخه لازمي لارښووني او مشورې شریکي کړې. د یادوني وړ ده، چې د کورنۍ پلټنې لوی رئیس د پورته ذکر سوو ادارو کارکوونکو ته ډاډ ورکړ، چې د دوی ستونزي او غوښتني به ډېر ژر د مالیې وزارت له رهبرۍ سره شریکي کړي.

## د روان کال عوایدي هدف ته د رسېدو په موخه د عوایدو لوی ریاست رهبري پلاوي ناسته وکړه

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د ۱۴۰۳ هـ.ل کال د رهبرۍ پلاوي یوولسمه ناسته د عوایدو او گمرکونو معینیت د غونډو په تالار کي تر سره سوه. په دغه ناسته کي، چي د عوایدو لوی ریاست رئیس حافظ مولوي شاه حسین حسیني په مشرۍ ترسره سوه، د یاد ریاست عملیاتي مرستیال حافظ خلیل احمد، د عوایدو لوی ریاست تخنیکي مرستیال عبدالولي نوري، د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ رئیس مولوي نداء محمد صدیقي، د عوایدو د تحقیق، پلان او نظارت رئیس مفتي عبدالغفار سلیم، د عوایدو د بررسۍ رئیس انجنر خان محمد ذاکر، د عوایدو د سیستم رئیس محمد جلال احمدزي؛ د غیر مالیاتي عوایدو رئیس امان الله امین او آمرینو گډون کړی وو. په یاده ناسته کي پر یو لړ مهمو موضوعاتو باندي بحث وسو، چي له هغې جملې څخه د (۱۴۰۳هـ.ل) مالي کال د عوایدو هدف ته د رسېدو د څرنگوالي پر راپور، د مالیاتي محاسبینو د اتمي دورې په انلاین ډول ازموینې اخیستو او مالیاتي سیستمونو لپاره د طرزالعملونو، پالیسۍ او رهنمودونو جوړولو باندي بحث و سو. د عوایدو لوی رئیس حافظ مولوي شاه حسین حسیني




د عوایدو لوی ریاست د ټولو رئیسانو د کارونو د ستاینې او قدردانۍ ترڅنگ دوی ته د کارونو د لا ښه والي په موخه یو لړ مهمې او لازمي سپارښتني وکړې .

## د ۱۲ مستوفیتونو مالي او حسابي کارکوونکو ته د روزنیز پروگرام لومړۍ دوره پیل سوه





د مالیې وزارت د خزاینو لوی ریاست له لوري او د بشري سرچینو ریاست په همکارۍ د ننگرهار، نورستان، لغمان، کونړ، کابل، کاپیسا، پروان، لوگر، میدان وردگ، پکتیا، خوست او پکتیکا مستوفیتونو مالي او حسابي کارکوونکو ته د روزنیز پروگرام لومړۍ دوره پیل سوه. دغه روزنیز پروگرام د یو لړ مراسمو په ترڅ کي د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د کنفرانسونو په تالار کي پرانیستل سو، چي اداري معین مولوي دوست محمد مخلص، د افغانستان د مالي مدیریت معلوماتي سیستم (افمیس) رئیس او د خراینو لوی ریاست سرپرست انجنر ستارالدین معتصم، د بشري سرچینو رئیس مولوي احمد شاه شاکر، د محاسباتو رئیس محب الله صاحبزاده او د مستوفیتونو مالي او حسابي برخي کارکوونکو گډون پکښي کړی وو. د مالیې وزارت اداري معین مولوي دوست محمد مخلص په خپلو خبرو کي وویل، چي دغه روزنیز پروگرام د نظام د پیاوړتیا او خلکو ته د غوره خدمتونو د وړاندي کولو په موخه جوړ سوی او تاسو، چي د دغه اسلامي نظام د خادمانو په توگه دلته راټول سوي یاست؛ د دې پروگرام څخه د پوهي او پوهاوي د پراختیا او د اړوند مسؤلیت په ښه توگه ادا کولو، د حلالو او حرامو توپیر، د حق د ضایع کېدو د مخنیوي او خلکو ته د غوره خدمتونو وړاندي کولو په موخه جوړ سوی دئ. د افغانستان د مالي اداري د معلوماتي سیستم رئیس انجنیر ستارالدین معتصم وویل، په مرکز او ولایتونو کي هغه پروگرامونه، چي په انلاین او حضوري بڼه جوړ سول، خورا گټور تمام سول. دا پروگرام هم د مهارتونو د لا ښې ودي په موخه جوړ سوی او له هغه شته امکاناتو او فرصتونو څخه په استفادې، ستاسي لپاره برابر سوی، چي خپل مهارتونه لا پراخ او د شفافیت په تأمین، د بیت المال په ساتنه او د فساد په مخنیوي کي برخه واخلئ. د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر هم په خپلو خبرو کي وویل، چي د مالیې وزارت د خپل توان او امکاناتو له مخي ستاسو د ظرفیت لوړولو په موخه دا ډول پروگرامونه برابروي، له همدې امله وطن او نظام ته د ژمن مجاهد په توگه خپل مسؤلیت په اصولي او شرعي ډول ادا کړئ. د محاسباتو رئیس محب الله صاحبزاده وویل، چي د خزاینو لوی ریاست د هیواد په کچه او مستوفیتونه په ولایتونو کي د مالیې وزارت د استازولیو په توگه د مالي چارو مسؤلیت په غاړه لري. هڅه وکړئ، چي د دې پروگرام له پاره له ځانگړي سوو امکاناتو، اسانتیاوو او تجربه لرونکو روزونکو څخه اعظمي گټه پورته کړئ او خپل مسؤلیتونه په اصولي او قانوني ډول ترسره کړئ. په پای کي دغه مراسم د خیر په دعایې پای ته ورسېدل. د یادوني وړ ده، چي دغه دوره به (۲) اوونۍ دوام وکړي، چي په هغې کي به د مالي چارو او عامه لگښتونو قانون، د ملي بودیجې پلي کولو اصولنامه، د کرایې مقرره، سفریه او جیب خرڅ، د تدارکاتو قانون او طرزالعمل، د معاشونو او لگښتونو د حوالو ترتیب، پیشکي تادیات او چک لیست، د معاشونو بانکي کول، ولایتونو ته د شتمنیو لېږد، د ادارو بانکي حسابونو ته د پیشکي حوالو د لگښت او لېږد څرنگوالی، فورمې، نغدي او جنسي کنټرول، د حسابونو جدول، د ولایتي لگښتونو تطبیقات، بانکي تطبیقات، د عادي او پراختیایي بودیجې د تخصیصاتو طی مراحل او اړوند نور موضوعات تدریس سي.

## رهبری ریاست دعوت و ارشاد وزارت مالیه با آمرین و مدیران اجرائیه این وزارت دیدار نمود

رهبری ریاست دعوت و ارشاد وزارت مالیه با آمرین و مدیران اجرائیه ریاست های مختلف این وزارت دیدار نموده و از همکاری ایشان با ریاست مذکور تشکری کرد. در این جلسه مولوی عبدالهادی سیف الخالد، رئیس دعوت و ارشاد، و مسئولین این ریاست و آمرین و مدیران اجرائیه وزارت مالیه اشتراک داشتند. مولوی عبدالهادی سیف الخالد، رئیس دعوت و ارشاد گفت: آمرین و مدیران اجرائیه ریاست ها، نمایندگان ریاست دعوت و ارشاد بوده و مسئول چاپ نمودن دروس و بدسترس قرار دادن آن به تمام کارمندان وزارت می باشند. وی اضافه نمود که توصیه نمودن و رساندن بموقع پیام های این ریاست، برای کارمندان به هدف آراستن صورت و سیرت خویش مطابق به سنت پیامبر گرامی صلی الله علیه وسلم نیز از مسئولیت های مدیران اجرائیه بوده و در قبال آن پاسخگو خواهند بود. در اخیر نظریات و پیشنهادت اشتراک کنندگان استماع گردیده راه های ارتباطی برای شریک سازی شکایات و پیشنهادات نیز تأمین گردید. جلسه با دعای خیر اختتام یافت. قابل یاد آوریست که این ریاست دروس اصلاحی، عقیدتی و دینی را برای کارمندان ارائه نموده و به آراسته ساختن سیرت و صورت شان مطابق به سنت پیامبر عظیم الشأن صلی الله علیه وسلم و داشتن برخورد نیک و حسنه توصیه می کند.

## د روان مالي کال په وري میاشت کي د هیواد په گمرکونو کي د ترسره سوو فعالیتونو تخنیکي ارزونه وسوه



د گمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د روان (۱۴۰۳مالي کال) په وري میاشت کي د هیواد په گمرکونو کي د ترسره سوو فعالیتونو د تخنیکي ارزوني په موخه ناسته وسوه. په دې ناسته کي د گمرکونو لوی ریاست مرستیالانو، یو شمېر رئیسانو، آمرینو او د ویډیو کنفرانس له لاري د ولایتي گمرکونو مسؤلینو گډون کړی وو. په پیل کي د گمرکونو لوی رئیس گډونوالو ته ښه راغلاست ووایه او کارکوونکو ته ئې د وړتیا لوړولو، په خپل وخت سره شته ستونزوته د رسېدلو، په سمه توگه د اړوندو چارو د تر سره کولو او په ځینو نورو برخو کي ئې د ولایتي گمرکونو مسؤلینو ته لازمي سپارښتني وکړې. د گمرکونو لوی ریاست د پلان جوړوني، پالیسۍ، څارني او ارزوني رئیس محمد وسیم عثمان له لوري د (۱۴۰۳ مالي کال) د وري په میاشت کي په گمرکونو کي د تر سره سوو فعالیتونو په تړاو تولیز راپور وړاندي سو او همدا راز په دې موده کي د عوایدو د راټولېدو، د هیواد په ټولو گمرکونو کي د تر سره سوي سوداگرۍ، د وارداتي توکو گمرکي ارزښت او د سوداگریزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه گډونوالو ته بشپړ معلومات ورکړل سول. د ولایتي گمرکونو مسؤلینو هم په خپل وار سره په خپلو اړوندو کاري برخو کي د شته ستونزو یادونه وکړه، چي د گمرکونو لوی ریاست د رهبرۍ له لوري ئې د ژر حل کېدو ډاډ ورکړل سو.

## د ننگرهار او هرات گمرکونو کارکوونکو ته د گمرکي مسایلو په تړاو ښوونیز پروگرامونه پیل سول



د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له لوري د (۱۴۰۳ هـ.ل) کال د تدریسي پلان له مخي د ساحوي روزنیزو پروگرامونو په لړ کي د ننگرهار او هرات گمرکونو کارکوونکو ته د گمرکي مسایلو د زده کړي او د کارکوونکو د ظرفیت لوړوني په موخه د گمرکونو قانون، گمرکي کرنلارو، گمرکي بیي ټاکني، تعرفې، گمرکي رویو، گمرکي عوارضو او نورو اړوندو برخو کښي په نظري ډول او په ورځني ډول د کارکوونکو د کارونو د ارزولو او گمرکي اصولو د تطبیقاتو په موخه په عملي شکل روزنه پیل سوه. یاد روزنیز پروگرامونه، چي یوه نیمه میاشت به دوام وکړي د یادو گمرکونو د کارکوونکو ظرفیت ته په کتو سره به د دوی مسلکي اړتیاوي ور پوره او شته ستونزي حل کړي.


شتمنی SHTAMANI اوونیزه

# پلان گذاری اساس یک سازمان را تشکیل میدهد

محمد افضل الکوزی
مسوول تحلیل وجمع آوری معلومات
ریاست ارتباط و آگاهی عامه

پلان گذاری عبارت اند از پروسه ی تشخیص و تعریف اهداف، تعین فعالیت های توام با زمانبندی تطبیق آن، طراحی وضعیت مطلوب و تدارک اقدامات و وسایل جهت تحقق اهداف و سنجش دقیق مصارف و ترتیب شرح مصارف می باشد.

برای ارزیابی میزان موفقیت مدیران سازمان"باید عملکرد مدیر را با دو معیار اثر بخشی (موثریت) و کارایی ( مثمریت ) مورد ارزیابی قرارداد. اثر بخشی یعنی توانایی انجام دادن کار های درست (کارایی) یعنی توانایی انجام دادن کارها به صورت درست و مناسب. این دو معیار مانند دو رکن اصلی پلان گذاری هستند زیرا همانگونه که در تعریف پلان گذاری بیان شده که پلان گذاری عبارت اند از تعیین اهداف درست و سپس انتخاب راه های درست و



مناسب برای بدست آوردن آن اهداف، که برای دست یابی به اثر بخشی و کارایی دریک سازمان، ضرور است. بنابرآن پلان های صحیح، دقیق طراحی و اجرا شود چراکه اگر در سازمان پلان گذاری دقیق صورت نگیرد ، اهداف سازمان و نیز راه ها و ابزار مناسب برای دست یابی به آنها مشخص نخواهد شد، و اگر اهداف سازمان و راه های رسیدن به آن ها مشخص نشود، اثر بخشی و کارایی تحقق نخواهد یافت و عدم موجودیت پلان دقیق در یک سازمان سبب میگردد تا تصامیم مختلف سازمان منجر به چالش ها و تک کارگی ها گردد. بنابر این گفته میتوانیم که نکات ذیل نشان دهنده اهمیت پلان گذاری در یک سازمان خواهد بود.

پلان گذاری سبب کاهش خطرات در سازمان می شود امروزه سازمان ها با پیچیده گی های گوناگون مواجه اند که فقط با اتکا به اندیشه ها نمیتوان اجراات نمود بلکه باید اندیشه ها پلا نگذاری شود تا جلو خطرات و چالش راگرفت و از وقوع بی ثباتی در سازمان جلوگیری بعمل آید و پلا ن گذاری سبب موفقیت سازمان گردد.

پلان گذاری موفقیت را تضمین نمیکند اما دریافت ها نشان میدهد سازمان های که پلانگذاری شان بهتر بوده در مقایسه به سازمان های بی پلان گذشته پر درخشش و بهتر داشته اند و پلان گذاری سبب توجه تمرکز به اهداف سازمانی میگردد.

پلان گذاری به مدیران نیز کمک میکند تا توجه افراد را به اهداف و فعالیت های سازمان معطوف دارد و این مرحله کمک میکند تا منابع سازمان به خوبی و بطور اقتصادی مورد استفاده قرار گیرد و پلان گذاری سبب آموزش مدیران گردد.

پلان گذاری یک عبارت عالی جهت آموزش مدیران میباشد که در فعالیت های گوناگون سازمان دخیل هستند و پلان آنها را وادار و مصداق در اجرای جنبه های مختلف پلان گذاری میسازد.

# اعلانات داوطلبی

## د کابل ښاروالۍ ۳ مي ناحيې کوټه سنگي کي د نظیف مارکېټ اړوند (۱۰) بابه دوکانونو د داوطلبۍ خبرتیا

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست، غواړي چي د کابل ښاروالۍ ۳ مي ناحيې کوټه سنگي کي د نظیف مارکېټ اړوند (۱۰) بابه دوکانونه په جلاجلا ډول د داوطلبۍ له لارې اعلان ته وړاندې کړي.

۱.د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۱٦-۳۳ نمبر دوکان، چي ۳۳ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۱۴۰۰۰) افغانۍ ده.

۲.د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۱۷-۳۲ نمبر دوکان، چي ۳۳ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۱۴۰۰۰) افغانۍ ده.

۳.د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۱۸ نمبر دوکان، چي ۱۸ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۱۰۰۰۰) افغانۍ ده.

٤.د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۱۹ نمبر دوکان، چي ۱۳.٦ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۴۰۰۰) افغانۍ ده.

۵.د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۲۰-۳۰ نمبر دوکان، چي ۳۳ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۱۴۰۰۰) افغانۍ ده.

٦.د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۲۱-۲۹ نمبر دوکان، چي ۳۳ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۱۴۰۰۰) افغانۍ ده.

۷.د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۲۲-۲۸ نمبر دوکان، چي ۳۳ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۱۴۰۰۰) افغانۍ ده.

۸.د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۲۳ نمبر دوکان، چي ۱۸ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۱۰۰۰۰) افغانۍ ده.

۹.د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۲٤ نمبر دوکان، چي ۱۸ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۱۰۰۰۰) افغانۍ ده.

۱۰.د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۲۵ نمبر دوکان، چي ۴ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۲۵۰۰) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ۳٤,۵۱۵۲۷۲-٦۹,۱۱۷٤٦

ټول هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي ملکیتونه په کرایه ونیسي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (ثور/۱۴۰۳/۱۵) څخه وروسته تر (جوزا / ۰۴/ ۱۴۰۳) پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي ټرونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ مجلس: د (جوزا /۰۵ /۱۴۰۳) نېټه، د سهار ۹:۳۰ بجې ترسره کیږي.

د اړیکو شمیرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

## د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحيې اړوند گردي چوک کي د (۱۵۵۵) متره مربع پارکینگ د داوطلبۍ خبرتیا

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست، غواړي چي د کابل ولایت لومړۍ ناحيې اړوند گردي چوک کي د (۱۵۵۵) متره مربع په مساحت سره پارکینگ چي د کوچنیو گودامونو او دوکانونو درلودونکې دی او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۱۱۲۵۰۰) افغانۍ ده د داوطلبۍ له پاره اعلان ته وړاندې کوي.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر):۳٤,۵۱۱۵٦-٦۹,۱۸۱۰۲

ټول هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي ملکیتونه په کرایه ونیسي، کولای سي، چي خپل غوښتنلیکونه د (ثور/۱٦ /۱۴۰۳) څخه وروسته تر د(۱۴۰۳کال د جوزا میاشتې ۵ مي) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي ټرونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ مجلس: د (جوزا /۰٦ /۱۴۰۳) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې ترسره کیږي.

د اړیکو شمیرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

## اعلان داوطلبی دو جایداد دولتی مربوط ناحیه ۹ و ۸ شاروالی کابل

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه دو جایداد ذیل را از طریق پروسه داوطلبی به شکل آفر سربسته به اعلان می سپارد.

۱-.موازی ۲۳۰۰۰ مترمربع زمین شامل هنگر، دفتر، و تشناب ها واقع سرک کابل جلال آباد مربوط ناحیه نهم شاروالی کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۳۱۹۱۷٦) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر):۳٤,۵٤۵٦-٦۹,۲۸۳۳۱

۲- یکباب کانتین بمساحت ۱۰۰ مترمربع واقع داخل محوطه تربیت بدنی و ورزش مربوط ناحیه۸ شاروالی کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۸۰۰۰) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر):۳٤,۵۱۸۰٦-٦۹,۱۹۳۹۳

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق را داشته باشند میتوانند در خواست های شان را بعد از تاریخ ۱۵/ ثور/ ۱۴۰۳ الی ۰۴/جوزا / ۱۴۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس:سینما پامیر تعمیر ۱٤منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.

شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤)

مجلس داوطلبی: تاریخ ۰۵ / جوزا / ۱۴۰۳به ساعت(۱۰:۰۰) بعد از ظهر برگذار میگردد.

## د منډيي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ اړوند (۴) بابه دوکانونو د داوطلبۍ خبرتیا

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چي د کابل ولایت لومړۍ ناحيې اړوند د منډيي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ (۴) بابه دوکانونه په جلا جلا ډول د داوطلبۍ لپاره اعلان ته وړاندې کړي.

۱- د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۳ نمبر دوکان چي ۱۳،٦۰ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۲۲۱۴۹) افغانۍ ده.

۲- د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ٦ نمبر دوکان چي ۹،۳٦ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۱۲۹۰۷) افغانۍ ده.

۳- د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۷ نمبر دوکان چي ۹ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۱۱٦٤۲) افغانۍ ده.

۴-د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۱۰ نمبر دوکان چي ۸،٦۴ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۱۲۷۵۵.۴) افغانۍ ده.

کوردینات (جي. پي. اس نمبر): ۳٤,۵۱۷٤۱-٦۹,۱۷۷۲٤

هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي ملکیتونه په کرایه ونیسي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (ثور/۱۸ /۱۴۰۳) څخه وروسته تر (ثور/ ۳۱/ ۱۴۰۳) پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي ټرونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ مجلس: د (جوزا /۰۱ /۱۴۰۳) نېټه، د سهار ۱۰ بجې ترسره کیږي.

د اړیکو شمیرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

## اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان درنظردارد( پروژه تدارک پرزه جات ضرورت وسایط وزارت ) دارای نمبر قرارداد MOF/۱٤۰۲/ NCB/G-۱۱۰ را با شرکت ساختمانی و لوژستیکی افغان خالد جیحون دارنده جواز نمبر٦۹۵٦٦ به قیمت مجموعی مبلغ ۷،۹۷۳،۸۳۵ (هفت میلیون و نه صدو هفتادو سه هزار و هشت صدو سی و پنج) افغانی عقد قرارداد نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ ۱۸/ثور/ ۱۴۰۳ الی ۲۴/ثور/ ۱۴۰۳ طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات - کابل ارائه نماید.

این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان –ریاست تدارکات، آمریت تدارکات- مشاوریت تدارکات منزل دوم معینیت اداری.

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء ( تهیه و تدارک کارتریج برای گمرک های ولایات) دارای نمبر تشخیصیه (MOF/۱٤۰۳/NCB/G-۰۲٤) که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۲۷/ ثور/۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۷/ جوزا/۱٤۰۳ ساعت ۰۲:۰۰ بعد از ظهر میباشد.

تضمین آفر: به مبلغ ۲،۰۰۰،۰۰۰ (دو میلیون) افغانی میباشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، آمریت تدارکات منزل دوم.

## د داوطلبۍ خبرتیا

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي ( د ولایتي گمرکونو د ۷ پایه ترازوگانو د ترمیم او تدارک) په پروژه کي، چي تشخیصیه نمبر ئې (MOF/۱٤۰۳//NCB/G-۰۲۳) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کیږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لارې د شرطپاڼي له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندې پتو څخه ترلاسه کړي.

تر داوطلبۍ وړاندې د جلسې ټاکلې نېټه: د ( ثور ۲٦مه۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفرگشايي ټاکلې نېټه: د (جوزا /۰۷/ ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفر تضمین: پنځه سوه زره (۵۰۰۰۰۰) افغانۍ.

ځای: پښتونستان واټ، د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو ریاست – د تدارکاتو مشاوریت

د اړیکو شمیرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

په ځنډ رسېدلي او انټرنیټي افرونه د منلو وړ نه دي

# شتمنۍ SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې



ویبسایټ: mof.gov.af
ایکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)




## Over 179 Thousand Tons of Contrabands Detected, Seized in Last FY1402 – MoF's Customs Officials



According to the customs of the country, the contrabands that were smuggled to Afghanistan from neighboring countries, especially from Pakistan, have been seized and the perpetrators have been identified to the relevant authorities. Currently, the mobile surveillance staffs of the General Directorate of Customs are monitoring and patrolling all the highways of the country constantly and do not allow anyone to smuggle, particularly the goods that halt the growth of domestic industry.

prevented a large number of low-quality goods and prohibited contrabands in different provinces of the country in the last FY1402. The brave staffs of customs of MoF have seized 178,194 tons of inferior and prohibited goods in different areas of Kandahar, Nimroz, Farah, Khost, Paktia, Herat, Helmand and Nangarhar provinces, including medicine, agricultural and Yunani (Herbal) medicines, edibles, illicit drugs and so on.

In addition to the provision of crucial facilities in the country's customs by the MoF, corruption has been seriously eradicated and contrabands have been strictly prevented. Based on this, 'the mobile surveillance staff' of the General Directorate of Customs of MoF

## MoF, Private Company Launch Construction of 'Millat Commercial Market' Worth $4.5 mln

The construction of a large and standard commercial building of 'Millat Market' in Mirwais Maidan (aka Kota Sangi) area of Kabul city has officially started with the cutting of the ribbon by some officials of MoF and a private contracting company. In this area, on two Jiribs



of land belonging to the MoF, 'Maihan Millat Construction Private Company' is responsible to build a standard 12-floor building that possesses 300 commercial shops with an investment of $4.5 million. It will provide direct employment to hundreds of people. The commercial center will be built in a 3-year-period, from which 38 million Afs will be added to the state's treasury.

## مسؤلین گمرکی وزارت مالیه در سال مالی ۱۴۰۲ حدود (۱۷۹) هزار تُن اموال قاچاقی را کشف و ضبط کرده است

علاوه بر ایجاد تسهیلات ضروری در گمرکات کشور از سوی وزارت مالیه، با فساد نیز مبارزه جدی صورت گرفته و از اموال قاچاقی و ممنوعه جلوگیری به عمل آمده.

بر این اساس کارمندان دلیر مراقبت سیار ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه در سال مالی گذشته (۱۴۰۲ هـ.ش) از مقدار زیاد اموال بی کیفیت و ممنوعه قاچاقی در ولایت های مختلف کشور جلوگیری کرده اند.

مسؤلین شجاع گمرکات وزارت مالیه از (۱۷۸,۱۹۴) تن اموال بی کیفیت و ممنوعه در مناطق مختلف ولایت های قندهار، نیمروز، فراه، خوست، پکتیا، هرات، هلمند و ننگرهار که شامل ادویه جات طبی، زراعتی و یونانی، مواد خوراکه، مواد مخدر و سایر مواد می باشند جلوگیری نموده. این اموال که از کشورهای همسایه به ویژه پاکستان به شکل قاچاق و از راه های غیر رسمی وارد افغانستان می گردید، کشف و ضبط نموده و عاملین آن به ارگان های مربوطه معرفی شده است.


در حال حاضر تیم های مراقبت سیار ریاست عمومی گمرکات به طور مداوم نظارت و گزمه های خویش را انجام میدهند و به هیچ کس اجازه نمیدهد که اموال ممنوعه باالخصوص اموال که بر جلوگیری رشد صنعت داخلی تاثیر گذار باشند انتقال دهند.







## اسلامي امارت د روسي نفتو په تړاو د سیمې د انرژۍ د سوداګریز مرکز له پاره پلان جوړوي




د رویټرز ـ REUTERS په نوم خبري اژانس د اسلامي امارت له خوا د هغه پلان په اړه راپور خپور کړی دئ او وايي اسلامي امارت داسې پلان لري، چې په هرات کې د سیمې د انرژۍ په تړاو سوداګریز مرکز جوړ کړي او په دې پلان کې ئې روسي نفت په نظر کې نیولي دي.

د راپور د متن په اساس په دې اتصالي مرکز کې د ښکېلتیا له مخې د شپږو هیوادونو؛ لکه: روسیې، قزاقستان، ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان نومونه راغلي دي.

دا لوجیستیکي مرکز، چې په هرات کې جوړېږي، راپور د نورالدین عزیزي صاحب په حواله داسې خبري رانقلوي: «اسلامي امارت له قزاقستان او ترکمنستان سره خبري ته رسېدلي دئ، چې د افغانستان په لوېدیځ کې د لوجیستیکي مرکز پر جوړولو موافقه وکړي، چې موخه ئې د دې ملک د سیمه ییزو صادراتو له پاره یو لوی لوژیستیکي ځای دئ او په دې کې له روسیې څخه سویلي اسیا ته د تېلو لېږد په کښې شاملېږي.»

تخنیکي ټیم به په دوو میاشتو کې د دغه مرکز د رسمي پلانونو په اړه، چې درې سره هیوادونه به په کښې پانګونه کوي، یوه لیکلې موافقه لاسلیک کړي.

راپور زیاتوي، چې دا نوی مرکز د افغانستان له ستراتیژیک موقعیت څخه د ګټې اخیستنې د پراخولو یوه برخه ده، چې یو وخت د وربښمو د لرغوني مسیر سوداګریزه لاره وه، یعنې د سویلي او مرکزي اسیا ترمنځ پرته وه، چې له چین او ایران سره ګډه پوله لري.

د صنعت او سوداګرۍ وزیر عزیزي صاحب رویټرز ته ویلي دي، چې درې واړو هیوادونو افغانستان د اتصال د نقطې په توګه د ثابتولو هڅه کړې ده او وايي: "د افغانستان له لارې پاکستان ته رسېدل به تر ټولو ښه انتخاب وي."

متن زیاتوي، چې اسلامي امارت د روسیې د نفتي توکو پر صادراتو تمرکز کوي او قزاقستان هم په پام کې لري، چې د هرات له لارې د سویلي اسیا بازارونو ته توکي صادر کړي.

قزاقستان بیا په خپل وار سره په هرات کې د دې لوجیستیکي مرکز د ارزښت په اړه داسې خوشبیني لري: «د قزاقستان د سوداګرۍ وزارت رویټرز ته په یوه بیان کې ویلي دي، چې دوی غواړي د افغانستان له لارې سړکونه او د اورګاډي پټلۍ جوړ کړي، چې په پایله کې به له سویلي اسیا او خلیج سره وصل او دغه مرکز د لوجیستیکي مهم مرکز په توګه کار کوي.»

"اسلامي امارت له قزاقستان او ترکمنستان سره خبري ته رسېدلي دئ، چې د افغانستان په لوېدیځ کې د لوجیستیکي مرکز پر جوړولو موافقه و کړي او په دې کې له روسیې څخه سویلي اسیا ته د تېلو لېږد په کښې شاملېږي.

درې واړو هیوادونو هڅه کړې ده، چې افغانستان د اتصال د نقطې په توګه ثابت کړي او په اړه ئې عزیزي صاحب وايي: «د افغانستان له لارې پاکستان ته رسېدل به تر ټولو ښه انتخاب وي.»

د لوجیستیکي مرکز لومړني ظرفیت «یو میلیون ټن» یاد سوی دئ."

په راپور کې د لوجیستیکي مرکز لومړني ظرفیت «یو میلیون ټنه» یاد سوی دئ.

رویټرز خبري اژانس د عزیزي په حواله د واخان دهلیز خوا ته هم اشاره کړې ده، چې وايي اسلامي امارت له چینایي چارواکو سره د واخان دهلیز د لارې پر جوړولو خبري کړې دي او په دې سره به چین له ایران سره د افغانستان په مرسته د یو سوداګریزي مسیر په مرسته وصل سي.

په دې تړاو د افغانستان د سوداګرۍ وزارت چارواکي په دې وروستیو کې چین ته د روزني له پاره استول سوي دي.


د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.